مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
دوشنبه د ۱۳۹۸ د غبرگولي ۲۰مه | د ۲۰۱۹ د جون لسمه | درېیم کال| ۳۸۴یمه گڼه

# د افغانستان بانک: د ډالر پر وړاندې په بې ساري ډول د افغانۍ د ټیټېدو علت سیاسي او امنیتي بحران دی




۳

د داعش پراخېدونکي فعالیتونه او له سولې وروسته د جگړې د دوام وېره
۲ مخ

افغانستان؛ د شانگهای همکارۍ سازمان ته اړتیا لري
۲ مخ

سعودي عربستان، پاکستان او نړیوال جهاد!
۳ مخ

## پر افغانستان د پاکستان هوایي حریم تړل کېدو ۱۵ میلیونه ډالره زیان اړولی دی

د افغانستان د هوایي چلند اداره وایي، په تېرو پنځو میاشتو کې یې د پاکستان له لارې د پروازونو د درېدو له امله ۱۵ میلیونه ډالره تاوان کړی دی.
د یادې ادارې چارواکي وایي چې پخوا یې هره ورځ د پاکستان له لارې هند، چین او نورو هېوادونو ته له دریو سوو تر پنځو سوو پروازونه کول، خو د پاکستان او هند ترمنځ له شخړې وروسته هره ورځ شاوخوا شل پروازونه کېږي.
اقتصادي شنونکي وایي چې د گاونډیو هېوادونو له لارې د هوایي پروازونو محدودیت به افغانستان له تازه اقتصادي ستونزو سره مخ کړي.
دا په داسې حال کې ده چې پاکستان له هند سره د روان کال د فبرورۍ میاشتې په لړ کې د راپورته شوې شخړې له امله د خپلې فضا له لارې هند ته د افغانستان په گډون، د سیمې په ټولو هېوادونو بندیز وضع کړ چې له امله یې دغو هېوادونو ته اقتصادي تاوانونه واوښتل.
افغانستان چې د پاکستان له لارې یې د سیمې هېوادونو ته شاوخوا ۸۰ سلنه پروازونه له همدې لارې کول، د یادې لارې تړل کېدو له امله یې په میلیونونو ډالره تاوان کړی دی.
د دغې ادارې رییس محمد قسیم وفایي زاده ویلي چې د یادې لارې د خلاصون لپاره یې خپلې هڅې چټکې کړې او د پاکستان لومړي وزیر د اسلامي هېوادونو کنفرانس په لړ کې ولسمشر غني ته د یادې ستونزې د حل ډاډ ورکړی دی.

## ناټو تر ۲۰۲۴ ز کال پورې له افغان ځواکونو سره هر کال پنځه میلیارده ډالره مرسته کوي




۵ مخ


هېواد
۴ مخ

## عربي متحده امارات

پـه اماراتـو کـې د قانـون حاکمیـت، اداري او حقوقـي اسـانتیاوو د سیمې او نـړۍ پـه زرگونـه پانگـوال دې تـه هڅـولي، چـې پـه دوبۍ او د یـو اي اې پـه نـورو اماراتو کې کورونـه واخلـي، فابریکـې، هوټلونـه، مغـازې او دفترونـه جـوړ او پانگونـه وکـړي.



## کرنې وزارت: سږ کال به د غنمو حاصلات ۴،۳ میلیون میټریک ټنو ته ورسېږي




د کرنې وزارت وایي، اټکل کوي چې د وچکالۍ په کمېدو سره به سږ کال د غنمو حاصلات ډېر شي او شاوخوا ۴،۳ میلیونه میټریک ټنه غنم به ترلاسه کړي.
د ننگرهار ولایت چارواکي وایي، تېر کال یې تر دوو سوو میټریک ټنو غنم له همدې ځمکو ترلاسه کړي او اټکل کوي چې سږ کال به په دغه ولایت کې د غنمو حاصل تر پخوا شل سلنه زیات وي.
د زیاتوالي لوی لاملونه یې د وچکالۍ کمېدل او د اصلاح شویو تخمونو وېش یادېږي.
د غنمو ځینې کروندگر وایي، د غنمو سږنیو کروندو تر بل هر وخت ښه وړې او دانې کړې دي، خو له اړوندو مسوولو ادارو گیله من دي چې د دوی لاس نیوی یې نه دی کړی.
افغانستان هر کال شپږ میلیونه میټریک ټنه غنمو ته اړتیا لري، چې نږدې څلور میلیونه له خپلو ځمکو او تر دوو مېلیونو له نورو هېوادونو لکه قزاقستان، ازبکستان او پاکستانه په بیه اخلي.

## لویه څارنوالی، حکم بازداشت رئیس پیشین فدراسیون فوتبال را صادر کرده است



لویه څارنوالی گفته است که حکم بازداشت کرام‌الدین کریم رئیس پیشین فدراسیون فوتبال افغانستان، صادر شده است.
جمشید رسولی سخنگوی اداره لوی څارنوالی کشور، گفته است که این تصمیم، درپی اعلام کمیتهٔ اخلاقی فیفا در مورد رئیس پیشین فدراسیون فوتبال کشور، اتخاذ گردیده است.
با این حال کمیتهٔ اخلاقی فیفا نیز گفته است که کرام‌الدین کریم، به اتهام آزار جنسی دختران فوتبالیست به گونهٔ دایمی از فعالیت‌های ورزشی داخلی و خارجی محروم شده و همچنان باید مبلغ یک میلیون دالر امریکایی را به‌عنوان جریمه بپردازد.
این درحالی است که حدود شش ماه قبل، روزنامه گاردین با نشر گزارشی، برخی مسئولان فدراسیون فوتبال افغانستان را به «سوء استفاده جنسی» از اعضای تیم ملی فوتبال زنان افغانستان متهم کرد و در پی این اتهامات، فدراسیون بین‌المللی فوتبال (فیفا) و لویه څارنوالی افغانستان، تحقیقات را آغاز کردند.
لویه څارنوالی در آغاز تحقیقات؛ وظایف کرام‌الدین کریم رئیس فدراسیون، محمد یوسف کارگر معاون، علیرضا آقازاده سکرتر جنرال، مسئول دروازه بانان و مسئول ارتباطات با ولایات فدراسیون فوتبال افغانستان را، به حالت تعلیق درآورد و به جز معاون فدراسیون، همه را ممنوع الخروج اعلام کرد.
اما فدراسیون فوتبال افغانستان، گزارشی در مورد آزار و اذیت جنسی تیم ملی فوتبال زنان افغان را به شدت رد کرده و گفته بود که این اتهام‌ها، برای از بین بردن حجاب اسلامی بازیکنان افغان وارد شده است.

Shigal English Academy




SHIGAL ENGLISH ACADEMY 2019
Easy English learning
+93 (0) 789 98 9696
Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.

دریـــځ

## د داعش پراخېدونکي فعالیتونه او له سولې وروسته د جګړې د دوام وېره

د ولسمشر لومړی مرستیال جنرال عبدالرشید دوستم وایي چې داعش له طالبانو سره د سولې د پروسې له بریالیتوب وروسته، د جګړې لپاره تیاری نیسي. نوموړي پرون په شمال کې د امنیتي ځواکونو یوې غونډې ته په خبرو کې ویلي، چې په شمال او په ځانګړې ډول جوزجان کې یو ځل بیا د داعش فعالیتونه پیل شوي او که په چټکۍ یې مخه ونه نیول شي، نو شمېر به یې زرګونو ته ورسیږي.

اوس پوښتنه دا ده چې له طالبانو سره د سولې د خبرو له بریالیتوب وروسته، داعش څومره جدي ګواښ دی؟

له طالبانو سره د امریکا د خبرو او د سولې په تړاو یو تحلیل دا دی، چې امریکا له طالبانو سره د سولې له لارې غواړي داعش ته د فعالیت زمینه برابره کړي. که څه هم له طالبانو سره د خبرو لړۍ تر اوسه ډېره بریالۍ نه ښکاري، خو دا چې امریکا له طالبانو سره خبرو ته حاضره شوې، ډېری کسان د امریکا پر نیت شک کوي او فکر کوي چې امریکا غواړي له طالبانو سره سوله وکړي، خو جګړه به د داعش پر مټ غځوي. څه وخت وړاندې د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد په واضحو ټکو وویل، چې له طالبانو سره سوله به په افغانستان کې ټوله جګړه ختمه نه کړي. د خلیلزاد او نورو امریکایي چارواکو دا ډول خبرو هغه تحلیل پیاوړی کړ، چې امریکا نه غواړي جګړه ختمه شي، بلکې غواړي طالبان سوله وکړي، خو یوه برخه نارضایان یې باید له داعش سره یو ځای شي او په دې ډول داعش پیاوړی شي.

پر امریکا دا تور هم دی چې د داعش ملاتړ کوي، وسلې او تجهیزات او مالي ملاتړ یې کوي او ډېر کله یې په الوتکو کې ځینو سیمو ته لېږدوي. دا بحث آن رسمي چارواکو، د ولسي جرګې غړو او مهمو سیاستوالو را پورته کړی دی، چې لا هم نه د حکومت او نه هم د امریکا له خوا ورته قناعت بښونکی ځواب ورکړل شوی دی. اوس چې د سولې خبرې رواني دي، پر طالبانو نظامي فشار هم تر بل هر وخت زیات شوی دی، خو له همدې سره په یو وخت کې په ختیځ او شمال کې د داعش د فعالیتونو د پراخېدو رپوټونه ورکړل شوي دي. خپله د ولسمشر لومړي مرستیال دا خبره کړې او ویلي دي چې ولسمشر ته یې په دې اړه خبر هم ورکړی دی.

دغو ټولو بدلونونو او د امریکا کړنو ته په کتو سره ښکاري، چې په منظم ډول د داعش لپاره کمپاین کېږي. ښایي له همدې امله وو چې په شپږم پړاو کې طالبانو له امریکا سره دا بحث را پورته کړ، چې پایله یې لانجمنه شوه او له دې سره د شپږم پړاو خبرې له یو ډول ناکامۍ سره مخ شوې. اوس طالبان هم د داعش بحث او له دوی سره له سولې وروسته د جګړې د دوام پلان ته متوجه شوي او غواړي مخه یې ونیسي. یوازې طالبان نه، بلکې هر افغان باید د داعش پروژې، د داعش فعالیتونو او د داعش د ملاتړو پروګرامونو او پلانونو ته متوجه وي. له سولې مخکې او بیا تر هغه ډېر له سولې وروسته د داعش د پراخېدو او پر مټ یې د جګړې دوام خطر جدي دی او باید سره له اوسه یې د مخنیوي لپاره ګامونه پورته شي.



# افغانستان؛ د شانګهای همکاری سازمان ته اړتیا لري

لیکنه: په افغانستان کې د چین لوی سفیر لیو جېن سونګ

د شانګهای همکارۍ سازمان د غړو هېوادونو د مشرانو شورا غونډه به څو ورځې وروسته د قرغېزستان په پلازمېنه بیشکیک کې پیل شي او د سیمه ییز امنیت، ثبات او پرمختګ پر موضوعاتو به وځرخي.

سږ کال د شانګهای همکارۍ سازمان د جوړېدو اتلسمه کلیزه ده او د بېشکیک سرمشریزه غونډه به د دغه سازمان د ځوانیتوب مرحلې د نمانځلو په شان ترسره شي. په تېرو اتلسو کلونو کې د بېلابېلو خواوو په ګډو همکاریو، شانګهای همکارۍ سازمان په نړۍ کې د همکاریو داسې جامع او سیمه ییز سازمان ګرځېدلی، چې پراخوالی او نفوس یې تر ټولو زیات دی. د دغه سازمان د غړو هېوادونو عمومي اقتصادي حجم او نفوس په جلاجلا توګه د نړۍ ۲۰ سلنه او ۴۰ سلنه نیسي. دغه راز دغه سازمان د افغانستان په ګډون څلور کتوونکي هېوادونه او شپږ د خبرو ملګري هېوادونه لري او له ملګرو ملتونو او نورو نړیوالو او سیمه ییزو سازمانونو سره یې پراخې همکاریزې اړیکې ټینګې کړې دي او نړیواله اغېزه یې لاپسې پراخه کېږي.

«شانګهای روحیه» د شانګهای همکارۍ سازمان د بریالیتوب بنسټ دی، چې په دې روحیې سره بېلابېلو غړو د مساواتو، متقابل باور او ګډو ګټو پر بنسټ، د ګډ پرمختګ موخو د ترسره کولو پر بېلابېلو موضوعاتو خبرې اترې او سلامشورې کړې دي او کوي یې او د سازمان متحرکه قوه یې ساتلې ده. دا د نویو نړیوالو اړیکو او د انسانانو د ګډ برخلیک ټولنې له معنی سره مشابه ده او د هېوادونو ترمنځ د اړیکو لپاره یې ایډیالوژیکي لارښوونې برابرې کړې دي.

شانګهای همکارۍ سازمان د سیمه ییز امنیت د ساتونکي په توګه رول لوبوي. دغه سازمان امنیتي همکاریو ته لومړیتوب ورکوي، د سیمه ییزو هېوادونو د پاملرنې وړ امنیتي موضوعاتو ته توجه کوي، تر نورو وړاندې یې د "دریو قواوو" تعریف کړی، د غړو هېوادونو لپاره یې د "دریو قواوو" پر ضد د مبارزې لارې چارې او اصول روښانه کړي او د امنیتي همکاریو لپاره یې یوه اغېزمنه لاره پیدا کړې ده. د ۲۰۰۱ ز کال په جون میاشت کې اړوندو خواوو د تروریزم، بېلتون غوښتنې او افراطیت پر ضد د مبارزې په اړه د شانګهای تړون لاسلیک کړ او په ۲۰۱۸ ز کال کې یې په چینګ داو کې د دغه سازمان په سرمشریزه غونډه کې هغه سند چې عنوان یې دی ((د مخدره موادو او اروایي درملو د ناوړه استفادې د مخنیوي په اړه د شانګهای همکارۍ سازمان طرحه)) تصویب کړ چې په دې سره د دغه سازمان د قوانینو د تطبیق او امنیت ساتنې په برخو کې همکاریو ته په قانوني لحاظ بنسټ ټینګ شوی دی. د دغه سازمان غړو هېوادونو په تاشکن کې د تروریزم ضد ایجنسۍ اجرایوي کمېټه جوړه کړه، د سولې دندې په نوم او د تیان شان د ترهګرۍ ضد مبارزې په نوم یولړ ګډ پوځي تمرینونه یې ترسره کړل، همدارنګه نوموړو د نشه یي توکو د قاچاق، د هېوادونو له پولې څخه په تېرېدو د جرمونو او د ناقانوني کډوالو پر ضد د مبارزې او د سرحدي سیمو د امنیت ساتلو په برخو کې یې ګډې همکارۍ وکړې. د یادو کارونو په ترسره کولو سره د غړو هېوادونو د همکارۍ توان ګام پر ګام لوړ شوی او د امنیتي همکاریو ساحه یې نوره هم پراخه شوې ده.

شانګهای همکارۍ سازمان د اقتصادي همکارۍ د هڅولو انجن دی. که څه هم د اقتصادي پیمانې، صنعتي جوړښت او پرمختیایي مرحلې په برخو کې د دغه سازمان د غړو هېوادونو ترمنځ توپیرونه څرګند دي، خو د اقتصادي پرمختګ او د خلکو د ژوند د ښه والي په اړه ګډه هیله شته. له تېرو څو کلونو راهیسې دغو هېوادونو د ستراتیژیک پیوستون، د تولیدي توان د همکارۍ او د سیمه ییزو سوداګریو او پانګونو د پیاوړتیا او اسانه کېدو په ساحو کې مثبت ګامونه پورته کړي دي. د یو کمربند او یوې لارې پېشنهاد د شانګهای همکارۍ سازمان د اقتصادي او سوداګریزو همکاریو لپاره پیاوړی خوځنده قوت برابر کړی. له ۲۰۱۳ ز کال څخه تر ۲۰۱۷ ز کال پورې د شانګهای همکارۍ سازمان له غړو هېوادونو څخه د چین د وارداتي تولیداتو ارزښت له ۳۴۰ ملیاردو امریکا یي ډالرو څخه زیات شوی او د دې سیمې په هېوادونو کې د چیني تصدیو د مستقیمو پانګونو اندازه ۱۵ ملیاردو امریکایي ډالرو ته نږدې شوې، چین د نوموړي سازمان د زیاتره غړو هېوادونو لپاره لومړی یا دویم لوی تجارتي ملګری ګرځېدلی دی. د چین او د سازمان د غړو هېوادونو ترمنځ د سوداګریزو تولیداتو جوړښت د بشپړېدو په حال کې دی او د متقابلو ګټو همکارۍ یې د ژوروالي په حال کې دي.

شانګهای همکارۍ سازمان د نوي ډول نړیوالو اړیکو نمونه ده. دغه سازمان د غړو هېوادونو د کلتوري متنوعیت او ټولنیز ارزښت درناوی کوي، د ملګرو ملتونو د منشور او د منلو وړ نړیوالو قوانینو مراعات کوي، د لا عادلانه او برابر نړیوال نظام د تاسیس لپاره هڅه کوي، د پرانیستي نړیوال اقتصاد د ګډې ابادۍ ملاتړ کوي، له هر ډول یو اړخیزتوب او سوداګرۍ ساتونکو افکارو سره د مخالفت غوښتنه کوي او د سوداګرۍ نړیوال سازمان د مقرراتو صلاحیت او چلند ساتي.

شانګهای همکارۍ سازمان تل د افغانستان چارو ته ډېره پاملرنه کوي. په ۲۰۰۵ ز کال کې د شانګهای همکارۍ سازمان او افغانستان د ارتباطو ډله جوړه شوه او د دواړو خواوو ترمنځ د همکارۍ دروازه پرانیستل شوه. دغې ډلې د روان کال په اپرېل کې په بیشکیک کې یوه غونډه تر سره کړه، چې ګډونوالو د افغان او سیمه ییزو حالاتو، د افغانستان د ملي روغې جوړې بهیر، د شانګهای همکارۍ سازمان او افغانستان ترمنځ د همکارۍ د پیاوړتیا په اړه بحثونه وکړل. په مې میاشت کې د شانګهای همکارۍ سازمان د غړو هېوادونو شورا نوبتي غونډه په بیشکیک کې تر سره شوه، چې د دې غونډې د پریکړې له مخې ((د شانګهای همکارۍ سازمان او افغانستان د ارتباطو ډلې د راتلونکو عملونو نقشه)) د غړو هېوادونو مشرانو سنجش او لاسلیک ته وړاندې شوه. د دغه سازمان او افغانستان ترمنځ تګ راتګ د پیاوړتیا په حال کې دی.

شانګهای همکارۍ سازمان د افغانستان مسئلې په اړه فطري غوره والی لري. افغانستان د ورېښمو په لرغونې لار کې رڼه مرغلره وه او د شانګهای همکارۍ سازمان له نورو غړو هېوادونو سره یو شان د یو کمربند او یوې لارې پېشنهاد مهم ګډون کوونکی دی. د دغه سازمان زیات غړي هېوادونه افغانستان ته نږدې پراته دي او له افغانستان سره ورته کلتورونه او دودونه، ژوره دوستي او د ملګرتیا احساس لري. افغانان هرکلی کوي چې شانګهای همکارۍ سازمان او د دغه سازمان غړي هېوادونه د هېواد د سولې او ثبات د پوره کولو او د اقتصادي پرمختګ د هڅولو په برخو کې له افغانستان سره مرستې کوي.

د سلامشورو او په کورنیو چارو کې د نه لاسوهنې په اړه د شانګهای همکارۍ سازمان اصول او د شانګهای روحیه د افغانستان د بېلابېلو برخو له خوا منل شوې او ستایل شوې ده. دغه سازمان د پرمختیایي لارې په اړه د افغانانو انتخاب ته پوره درناوی کوي، د ملي حاکمیت، خپلواکۍ او د خاورو بشپړتیا د ساتلو لپاره د افغانستان د کوښښونو ملاتړ کوي، د افغانستان د روغې جوړې بهیر ملاتړ او د امنیت ساتلو د توان د لوړوالي په برخه کې له افغانستان سره مرستې کوي او له ترهګرۍ او نړیوالو جرمونو سره مقابله کوي. ولسمشر محمد اشرف غني ډېر ځله ویلي چې شانګهای همکارۍ سازمان په سیمه ییز ثبات او پرمختګ کې مهم رول لوبولی، افغانستان غواړي چې د دغه سازمان له غړو هېوادونو سره د اقتصاد، سوداګرۍ، امنیت او کلتور همکارۍ پیاوړې کړي. د افغانستان مسئله له سیمه ییز ثبات او سمسورتیا سره تړاو لري، د یاد سازمان بېلابېل غړي هېوادونه د افغان مسئلې سیاسي حل غواړي او هرکلی کوي، چې د افغانستان حکومت او افغانان له دولتي وضعیت سره سمون لرونکې پرمختیایي لار غوره کړي او پخپله د سولې او روغې جوړې د چارو په اړه مشورې وکړي. له ترهګرۍ، افراطیت او د نشه یي توکو له جرمونو سره د مبارزې په برخه کې له افغانستان څخه ملاتړ کوي. د شانګهای همکارۍ سازمان بېلابېل غړي هېوادونه پر دې سیاسي اصل ټینګار کوي، چې د افغانستان چارې دې د افغانانو په مشرۍ او افغانانو په حاکمیت تر سره شي او له افغانستان سره په دوو اړخیزو همکاریو کې فعال ګډون او د دغه هېواد د سولې د رامنځته کېدو لپاره خدمتونه کوي.

چین د افغانستان ښه ګاونډی هېواد دی او د ملي امنیت او ثبات د ساتنې او د اقتصادي پرمختګ لپاره د افغانستان د هلو ځلو ټینګ ملاتړ کوي او د افغانستان د سولې د بیارغونې او د روغې جوړې بهیر په برخو کې له دغه هېواد سره یې تر خپلې وسې پورې مرستې کړې دي او کوي یې.

د تېر کال په جون میاشت کې د چین د دولت رییس شي جین پینګ د چین په چینګ داو کې د شانګهای همکارۍ سازمان د سرمشریزې غونډې پر مهال له ولسمشر غني سره کتنه وکړه او دواړو مشرانو د دغه سازمان تر چوکاټ لاندې د دواړو هېوادونو ترمنځ له همکارۍ سره موافقه وکړه. د دواړو هېوادونو اړوندې ځانګې د دواړو مشرانو د ګډو نظریو د پلې کولو په هڅه کې دي.

له مسلسلو جګړو او ګډوډۍ وروسته، د افغانستان لپاره دا امکان رامنځته شوی، چې سولې ته ورسېږي. که څه هم په اوسنیو حالاتو کې لا هم زیات ناڅرګند عوامل شته، خو افغانان هېڅکله د اوس په شان سولې ته نه وو نږدې شوي. چین او د شانګهای همکارۍ سازمان غړي هېوادونه د افغانستان له بېلابېلو ګوندونو او ډلو څخه غوښتنه کوي، چې د افغان ملت ګټو ته لومړیتوب ورکړي او د بین الافغاني ټول شموله ډیالوګ له لارې دې پراخې سیاسي ګډې نظریې تر لاسه کړي، څو د افغانانو په مشرۍ او د افغانانو په حاکمیت سیاسي بهیر پرمخ ولاړ شي. هیله من یم چې د امریکا او طالبانو ترمنځ خبرې اترې د یاد بهیر لپاره ګټوره موافقه تر لاسه کړي او د افغانستان مسئلې په اړه نور څو اړخیز میکانیزمونه په دې بهیر کې مثبت رول ولوبوي.

## سوداګرۍ خونه: په هېواد کې د ناامنیو له کبله ۱۴۰۰ سوداګرو خپلې پانګې له افغانستانه ایستلې دي

د سوداګرۍ او صنایعو خونې ویلي چې د سوداګرو تښتونې، په لارو کې له سوداګریزو مالونو پیسې اخیستل، لوړه تعرفه، په ادارو کې شته فساد، ناسم امنیتي وضعیت او په ناقانوني توګه د سوداګرو نیول او نورو بېلابېلو لاملونو په افغانستان کې خصوصي سکټور سخت اغېزمن کړی دی.

د دغې خونې مرستیال خان جان الکوزي تېره ورځ په کابل کې په یوه خبري ناسته کې له حکومته د خصوصي سکټور د خوندیتوب غوښتنه کړې ده.

هغه زیاته کړې: «هیله مې دا ده چې دولت له خصوصي سکټور سره د یو شریک او همکار په حیث برخورد وکړي. د قوانینو سختوالی، خپلسري او په ولایتونو کې شپږ اووه حکومتونه دا ټول هغه عوامل دي، چې پر خصوصي سکټور یې فشار راوستی او اقتصاد یې خراب کړی».



نوموړي ویلي چې د روانو ناخوالو له امله شاوخوا ۱۴۰۰ سوداګرو خپلې پانګې له افغانستانه ایستلې دي، چې دا د هېواد اقتصاد ته لوی زیان دی.

دا لومړی ځل نه دی چې د سوداګرۍ او صنایعو خونه د خصوصي سکټور پر مالکانو باندې د فشارونو او د ورته متوجې امنیتي ګواښونو خبره کوي، بلکې له دې وړاندې ځینې سوداګر او د دوی د کورنیو غړي تښتول شوي، چې بیا وروسته د پیسو په بدل کې ځینې خوشې شوي او ځینې وژل شوي هم دي.

خو د کورنیو چارو وزارت په هېواد کې دننه ټولو سوداګرو او پانګوالو ته د امنیت ډاډ ورکړی او ورنه غوښتنه کوي، چې د خطر او بې ځایه ځورونې په صورت کې دې اړوند امنیتي بنسټونه په جریان کې پرېږدي.



# سعودي عربستان، پاکستان او نړیوال جهاد!

لیکنه: سید خالد سادات

سعودي عربستان د اسلامي نړۍ علمبردار هېواد ته نن تر هر څه مخکې په منځني ختیځ او اسلامي نړۍ کې د سعودي قدرت ساتنې محور مهم دی. سعودي د عربي نړۍ جګړو رهبري خپله دنده بولي. د یمن په جګړه کې د سعودي شاهي کورنۍ د پنځلس زرو حوثیانو وژنو او ختمولو لپاره یوازې پنځه اتیا زره ماشومان وژلي. سعودیانو د سوډان ځوانان د دریو سوو ډالرو په مقابل کې په یمن کې د حوثیانو په مقابل کې وجنګول او له یمنیانو سره یې پر دایمي دښمنۍ واړول. په ۲۰۱۵ ز کال کې کله چې د یمن – عربستان جګړه پیل شوه، سعودي د یمن په جګړه کې دوه سوه میلیونه ډالره ورځنۍ لګښت درلود، چې په معاصرو جګړو کې د ورځني مصرف ستر رقم دی.

سعودیانو تېر کال د امریکا د ولسمشر ټرمپ په راتګ سره د ۱۱۰ میلیاردو ډالرو ستر جنګي قرارداد له امریکا سره لاسلیک کړ، سعودي شهزادګان له قطر او مصر نه د وېرې او ډار له وجهې له امریکا سره د وسلو د پلور ترون لاسلیک کړ. سعودیان له امریکا سره په منځني ختیځ کې د جګړو د ګټلو په پار دوستي غځوي. امریکا سعودي عربستان ته یوازې د قدرت ساتلو په سیاست کې سینه وهلی شي. امریکایانو پر سعودیانو منلې چې په عربي نړۍ کې د سعودي راج ساتلو په قیمت کې باید اسرایلي دولت شتون ولري. د سعودي او اسرایلو تر منځ اړیکې نږدې دي چې سفارتي بڼه واخلي، وار له مخه د سعودي عربستان شهزاده طلال په اسرایلو کې د سفیر په توګه ځان نومولی.

له بل لوري سعودي عربستان د سوریې په کړکېچ کې له ایران سره تر ډېره حده ډغره وهلې او لا هم خپل زور ازمایي. سعودي؛ ایران د شعیه مذهبي ایډیالوژۍ له مخې خپل دایمي رقیب بولي او حتی ټوله عربي نړۍ د ایران په مقابل کې درولو ته هڅوي. په سعودي کې تر ۱۶٪ د سعودي خپل نفوس اهل تشیع جوړوي او په عربي نړۍ کې د ایران له لاسوهنو سخته وېره لري. دغه هېواد فکر کوي، که نن ایران په سوریه او یمن کې برلاسی شي، سبا راته خپل شعیه ملت تحریکوي چې ممکن د شهزاده ګانو کورنۍ پر چپه کېدو تمام شي. ایران په عراق کې د صدام ځای ناستی یو بشپړ شعیه نظام تر واکه ورسوو، چې سعودي ترې تر ننه خوښ نه دی، نو له همدې کبله سعودي نه غواړي چې د عراق په څېر یو بل ایرانی ملاتړی نظام په یمن او یا هم سوریه کې رامنځته شي.

له بل پلوه سعودي د اسلامي نړۍ دارالخلافې په توګه د نړیوال جهاد پر مفکوره باندې عقیده من هېواد دی. سعودي د نړیوال جهاد ایډیالوژي پر افغانستان، د پخواني شوروي اتحاد اشغال پر مهال تولید کړه. د نړیوال جهاد مفکوره دا چې کمونیزم باید د نړۍ په هره برخه کې نسکور شي او پر وړاندې یې مبارزه کلک جهاد دی. سعودیانو د نړیوال جهاد طرحه او نقشه د افغان جهاد پر مهال جنوبي اسیا ته منتقل کړه. پاکستان ته د سعودي د استخباراتو رییس ترکي الفیصل سفر پر مهال، د آی اېس آی مشر جنرال حمیدګل ته د نړیوال جهاد د پلي کولو مسوولیت رسماً ور وسپارل شو. بادیب یو بل سعودي شهزاده چې د سعودي استخباراتو مرستیال و، له پاکستانه د عربي نړۍ مرستو راټولولو مسوولیت یې پر غاړه واخیست، څو کمونیستي نظریه په افغانستان کې دفن کړي.

اسامه بن لادن د نړیوال جهاد ستر لوبغاړی و چې د عربستان او پاکستان په ګډه هڅه د نړیوال جهاد پر ستر شهکار بدل شو. عبدالله عزام یو بل فلسطیني د سعودي بل نیابتي لوبغاړی و، چې د نړیوال جهاد په لاره کې یې حتی خپل ژوند له لاسه ورکړ. په اوس وخت کې ابو حمزه المهاجر، عمرالبغدادي، شیخ خالد، ابو زبیده الیبي او نور عربي جګړه مارانو چې د سعودي ګټو لپاره ځانونه قرباني کړي، د نړیوال جهاد ستر لوبغاړي ګڼلای شو. سعودي د پاکستان نظامیان او استخباراتي ظرفیت د خپلو سیاسي موخو د پلي کولو په خاطر د مذهب تر عنوان لاندې کاروي. پاکستان د نړیوال جهاد رښتینی ظرفیت لري، د افراطیت زېږول او بیا د همدې افراطیت کنټرول د سعودي او پاکستان تر منځ د ګډو همکاریو د اتصال ټکی دی. پاکستان په سیمه کې خپلې نیابتي جګړې د همدې افراطي مذهبه کړیو او ګروپونو پر مټ پلې کوي. په کشمیر کې د جیش محمد، سپاه صحابه، جماعت الاحرار، لشکر طیبه، جماعه الدعوه او نورې مذهبي حلقې دي چې د هند پر وړاندې یې جنګوي. پاکستان د سعودي له ملاتړ پرته نه شي کولای چې دومره ډېر مذهبي ګروپونه رامنځته او بیا یې تر پایه ملاتړ وکړي. هرومرو د سعودي استخباراتو او شاهي کورنۍ قوي لاسونه د پاکستاني مذهبي ګروپونو تر شا شته، څو د نړیوال جهاد مفکوره پرې ژوندۍ وساتي. په افغانستان کې د شوروي ضد جګړو را وروسته، عربستان پاکستان ته تر دې دمه سترې مرستې ورکوي او لا دا مرستې ادامه لري. ترکي الفیصل او بادیب د سعودي نیابتي استخباراتي جال د افغان جهاد پر مهال خپور کړ.

ایران په سیمه کې پر یو نظامي ځواک بدلېدونکی هېواد دی. عربستان له ایران سره د مخامخ جګړې وړتیا په ځان کې نه ویني، نو ځکه د نړیوال جهاد لوبغاړي پاکستان سره د جیش العدل جنګي ډلې پر جوړښت هوکړې ته رسېدلی، څو په ایران کې د څو میاشتو وړاندې بریدونو په څېر حملې وکړي. پاکستان د عربستان موخې د همدغو مذهبي ډلو پر مټ په ایران کې تعقیبوي. همدارنګه د ایران پر خاوره بلوچستان کې د ریګي ډله چې د ایراني دولت پر وړاندې جنګېږي، د پاکستان له بشپړ ملاتړه برخمنه ده او د ایران او پاکستان تر منځ راتلونکي ممکنه شخړه له همدې نقطې سرچینه اخلي.

سعودي عربستان افغانستان ته د پاکستان له زاویو ګوري، هر هغه څه چې پاکستان په افغان خاوره کې غواړي، عربستان یې ورسره مني او تر ننه زموږ حکومتونه نه دي توانېدلي چې د عربستان سترګې افغان لوري ته له پاکستاني عینکو را وباسي. پاکستان ته د شهزاده سلمان وروستی سفر د نړیوال جهاد پر محور را څرخي. پاکستان به د سعودي عربستان ۲۰ میلیاردو ډالرو پانګونې له برکته حد اقل خپلو اقتصادي ستونزو ته د حل لار وګوري. همدارنګه به پاکستان د عربي نړۍ زیانمن شوی اعتماد ترمیم کړي او په ټوله کې به د ایران په مقابل کې د عربانو د خوښ ساتلو لپاره ایراني دولت ته ستر سرخوږی شي. لکه څرنګه چې پاکستان د نړیوال جهاد له برکته د اټومي ځواک خاوند شو، اوس غواړي د همدې جهاد تر عنوان لاندې لوبه کې د عربستان په ملاتړ، د سیمې فعال لوبغاړی پاتې شي. په پای کې ویلای شو چې په پاکستان کې د سعودي عربستان وروستۍ ۲۰ میلیارده پانګونه یوازې د نړیوال جهاد تمویل دی او بس.

سعودي عربستان د پاکستاني نظامیانو او استخباراتو پر ظرفیت پوره باورمن دی، چې پاکستان د افراطي او سخت دریځو په روزنه او استعمال کې خورا ځواکمن قدرت تعریفدای شي، نو له همدې کبله یې د نړیوال جهاد پارټنر په توګه منلی. د نړیوال جهاد مفهوم پر ځای پاتې چې هغه په عربي نړۍ او سیمه کې د سعودي قدرت ساتل دي، اما په نوعیت کې یوازې د کمونیستي نظریې تر ماتې وروسته، د سعودي ګټو ساتلو مفهوم ته اوښتی سبجېکټ دی. عربستان به د ۲۰ میلیارده پانګونې په مقابل کې د پاکستان اردو لکه د کرایي قاتلینو په څېر د خپلو موخو او قدرت ساتلو په پار، د عربي نړۍ او منځني ختیځ په جګړو کې په خلاص مټ وکاروي.

## د افغانستان بانک: د ډالر پر وړاندې په بې ساري ډول د افغانۍ د ټيټېدو علت سیاسي او امنیتي بحران دی




په داسې حال کې چې په دې وروستیو کې افغانۍ د بهرنیو اسعارو او په ځانګړې توګه د ډالر پر وړاندې په بې ساري توګه ارزښت له لاسه ورکړی، د افغانستان بانک رییس وایي، چې د افغانیو د بې ثباته کېدو علت په هېواد کې روان سیاسي او امنیتي بحران دی.

د دغه بانک رییس خلیل صدیق، چې تېره ورځ د مشرانو جرګې استجوابیه غونډې ته بلل شوی و، ویلي چې له یوې خوا په وارداتو او صادراتو کې بېلانس نشته او له بل لوري جنګ او سیاسي مسایلو پر اقتصادي وضعیت ناوړه اغېز کړی دی.

هغه زیاته کړې چې د افغانستان اقتصاد په لوړه کچه ډالري شوی او اوسمهال د هېواد په ډېریو بازارونو کې معاملات د افغانۍ پر ځای په ډالرو کېږي.

بلخوا د مشرانو جرګې اداري هیئت او غړي نیوکه کوي، چې افغانۍ په بې ساري توګه د بهرنیو اسعارو په ځانګړې توګه د ډالرو پر وړاندې خپل ارزښت له لاسه ورکړی دی. دوی ویلي، پر نورو ستونزو سربېره هره ورځ له افغانستانه په پربمانه پیمانه ډالر قاچاق کېږي.

د دغې جرګې لومړي مرستیال محمدعلم ایزدیار ویلي: «خدای شاهد دی چې زه له یوه بندره راتلم، راته ویې ویل چې ډالر په موټرونو کې ځای پر ځای کېږي او پرته له دې چې وکتل شي، له هېواده بهر وځي».

خو د افغانستان بانک د بهرنیو اسعارو په ځانګړې توګه ډالرو پر وړاندې د افغانیو د بیې را لوېدو علت، سیاسي او امنیتي بې ثباتۍ، د صادراتو او وارداتو ترمنځ د بېلانس نشتوالی او ځینې نور عوامل بللي دي.

د دغه بانک د رییس خلیل صدیق په خبره، دا مهال په وارداتو او صادراتو کې بېلانش نشته، چې د افغانیو د بې ثباتۍ یو ستر علت هم دا دی.

هغه زیاته کړې: «د وارداتو او صادراتو ترمنځ مو لوی کسر شتون لري، نو له همدې کبله د اقتصاد د قانون له مخې موږ نه شو کولای ادعا وکړو چې پیسې مو دې په داسې حالت کې ثبات ولري».

د افغانستان بانک مسوولینو په دې غونډه کې ویلي، چې تېر کال افغانستان د ۷ اعشاریه ۴ میلیاردو ډالرو په ارزښت واردات درلودل، په داسې حال کې چې یوازې د ۸ سوو میلیونو ډالرو په ارزښت صادارت شوي دي.

د افغانستان بانک رییس دغه راز زیاتوي، چې جنګ، امنیتي او سیاسي بې ثباتۍ هم د افغانستان پر اقتصادي وضعیت ناوړه اغېزه کړې ده.

## په سوریه کې د حکومتي ځواکونو او یاغیانو ترمنځ په تازه نښتو کې ۱۶۸ کسان وژل شوي دي

په سوریه کې د حکومتي ځواکونو او یاغیانو ترمنځ د تېرو دریو ورځو په جګړو کې لږ تر لږه ۱۶۸ کسان وژل شوي دي.

په سوریه کې یو ځل بیا نښتو داسې مهال زور اخیستی، چې د سوریې د بشري حقونو د څار لندن مېشتې ډلې ویلي، د شنبې په ورځ جهادي ډلو او یاغیانو د حما ولایت په څنډو کې پر حکومتي ځواکونو تازه بریدونه کړي دي.

دې ډلې ویلي چې یاغیانو پر حکومتي ځواکونو لسګونه توغندي ویشتي او دوی ته نږدې یې د چاودېدونکو توکو یو بار موټر ته چاودنه ورکړې، چې درنه مرګ ژوبله یې اړولې ده.

د سوریې د بشري حقونو د څار ډلې ویلي، د شنبې د ورځې په نښتو کې د سوریې د حکومت لږ تر لږه ۳۷ سرتېري او ۲۸ یاغیان وژل شوي دي.

دا په داسې حال کې ده چې په وروستیو څو ورځو کې د سوریې د حما ولایت کلیوالي سیمې چې په تېر سپټمبر کې د رامنځته شوي غیر پوځي زون برخې دي، دې دواړو خواوو ترمنځ د سختو جګړو شاهدې دي.

بلخوا جرمني خبري اژانس په یو راپور کې ویلي، چې د پنجشنبې په ورځ له القاعده شبکې سره تړلې د التحریر شام په نوم جهادي ډله د ترکیې له متحدو یاغیانو سره په سیمه کې پر حکومتي ځواکونو د لویې حملې لپاره یو ځای شوه او له هغې را وروسته یې یو څه سیمې نیولې دي.

راپور زیاتوي، د دوی په ځواب کې د سوریې حکومتي ځواکونو او روسي متحدانو یې په حما او ادلیب ولایتونو کې د یاغیانو پر مرکزونو هوایي بریدونه کړي دي.

دا دواړه ولایتونه د سوریې په شمال لوېدیځ کې د یاغیانو وروستي پاخه سنګرونه ګڼل کېږي.

د سوریې دولتي خبري اژانس سانا بیا ویلي، حکومتي ځواکونو د حما په کلیوالي سیمو کې د یاغیانو برید په شا تمبولی او هغوی ته یې درنه مرګ ژوبله اړولې ده.

سانا او د سوریې د څار ډلې دواړو راپور ورکړی، چې د حما په شېزار ښارګوټي کې د شنبې په ورځ د یاغیانو د یوه توغندي لګېدو یو ملکي کس وژلی او دری نور یې ټپیان کړي دي.

د سوریې د بشري حقونو د څار ډلې ویلي، دری تنه نور ملکیان پر ادلیب د حکومت په هوایي بمباریو کې وژل شوي دي.

دا په داسې حال کې ده چې د اپرېل میاشتې په وروستیو کې د سوریې ولسمشر بشارالاسد چې د روسیې د هوایي ځواک ملاتړ ورسره دی، په حما او ادلیب کې د یاغیانو پر ضد پراخ عملیات پیل کړي دي.

په سوریه کې فعالان وایي چې هلته روانې جګړې زرګونه خلک بې کوره او لږ تر لږه ۳۵۷ ملکیان یې وژلي دي.

## د کتــاب خبــرې

# د لوی فکر جادو

◎ لیکوال: دوکتور ډیویډ شوارتز
◎ ژباړن: میـراحمد یـاد

### یوولسم څپرکی
### «ماتـه» څنګه «بری» کړو؟





که تاسې پر دې باوري شئ چې حللاره شته، نو منفي انرژي مو خپله په مثبتې انرژۍ بدله کړه، یعنې تاسې مخکې ځئ او دوام ورکوئ.
مسأله هغه وخت بې حله وي چې تاسې ته بې حله ښکاره شي. که تاسې دا باور ولرئ چې حل شته، نو حللارې به خپله پیدا کړئ، نو په ناشوني او نه حللارو هېڅ مه غرېږئ.
۲. شاته لاړ شئ او تازه ساه واخلئ. ځینې وخت موږ ستونزو ته دومره نږدې یو چې د حللارې یې راته نه ښکارېږي.
څه وخت مخکې مې یو انجینیر ملګری ولید، ده المونیمي تختې ډیزاینولې چې بیا ترې ودانۍ جوړېدې. په دې دومره موده کې ده ته هېڅ مفکوره ذهن ته رانغله او په کاغذ یې ونه لیکله. څو ورځې مخکې مې ولید، پوښتنه مې ترې وکړه: کارونه دې څنګه شول؟
ویې ویل: (ولا ښه نه دي. سږ کال مې لکه باغ ته دومره ډېر وخت نه دی ورکړی. زه چې له لویو ستونزو سره مخ شم، مجبور یم تر یوه وخته یې څنډې ته کړم، تر هغې چې نوي فکرونه راته راشي.
تاته به دا جالبه وي، خو ماته د انجینرۍ ډېرې مفکورې هله راځي چې باغ کې ګرځم او بوټي اوبه کوم.)
یوه ورځ په یوه خبري ناسته کې له ولسمشر ایسن‌هاور پوښتل شوي وو، چې ولې دومره ډېر چکرونه وهي؟ جواب یې نوښت پلوه خلکو ته جالب دی، ده ځواب ورکړ:
(که څوک جنرل موټر فابریکه چلوي او که د امریکا حکومت، خو زه پر دې باور یم. که دی مېز ته ناست وي او په کاغذونو یې سترګې خښې کړې وي، نو خپل کارونه ښه نه شي کولای. رئیس جمهور باید عملاً خپل ذهن له وړو او عادي مسائلو خلاص کړي او پر اساسي عواملو باید مستقل فکر وکړي. په دې توګه ښه او روښانه قضاوت کولای شي.)
زما یو پخوانی سوداګریز ملګری دی، دی هره میاشت کې خپلې مېرمنې سره درې شپې ورځې چکر ته تللو. نوموړی پوهېده چې دا شاته کېدل او ځان تازه کول د کار د پیل لپاره د ده ذهني قوت او ګټورتیا زیاتوي او پر ده د پیرودونکو باور زیاتوي.
که خنډ سره مخ شوئ، ټول پلان مه خرابوئ. یو قدم شاته واخلئ، ځان تازه کړئ او بیا را مخکې شئ. نوي کارونه وکړئ، مثلاً پیانو غږول، زمزمه کول، څو قدمه اخیستل یا بل فکر کول... له دې کار وروسته چې بیا له هغه خنډ سره مخ کېږئ، نو حللاره ورته خپله پیدا کېږي.
په ځانګړو حالاتو کې مثبت اړخونه لیدل هم فرصت پیدا کوي. یوه ځوان راته کیسه کوله چې دنده مې پرېښوده، بیا مې په دې کار کې مثبتو اړخونو ته پام شو، ویل یې:
(یوه لوی شرکت سره مې کار کاوه. یوه ورځ یې خبر راکړ چې شرکت سره دې کاري دوره ختمه شوه. اقتصادي بحران راغلی و او دوی ځینې هغه کارکوونکي ویستل چې شرکت ته یې ډېر ارزښت نه درلود.
چندانې کار نه و، خو زما ګوزاره پرې روانه وه. خبر مې چې واورېد، څو ساعته مې طبیعت سخت خراب و، بلاخره دې پایلې ته ورسېدم چې همدا به مې په برخه وو.
زما خپل کار سره چندانې جوړه نه وه، خو که همدې کار کې پاتې وی، نو ډېر نور فرصتونه به مې نه وی ترلاسه کړي. اوس مې دا فرصت درلود، چې د خپلې خوښې وړ کار پسې وګرځم.
څو ورځې لا تېرې نه وې چې په ښه معاش مناسب کار مې پیدا کړ. له دې شرکت زما وتل زما د ژوند تر ټولو ښه پېښه وه. دا یاد ساتئ، څه چې غواړئ هماغه در رسېږي. مثبت اړخ وګورئ چې پر ماتې برلاسي شئ. که مو د ستونزو په اړه سم او روښانه ذهنیت پیدا کړ، نو ټول عوامل به ستاسې په ګټه را پیدا کېږي.
**لنډیز**
د ماتې او بري توپیر په هغه ذهنیت کې دی چې خلک یې د خنډونو، سختیو، کمزوریو، زړه ماتېدو او نورو نهیلي کوونکو حالاتو په اړه لري.
په لاندې پنځو لارو، له ماتې، بری جوړولای شئ:
۱. خنډونه مطالعه کړئ چې بري ته خپله لاره پیدا کړئ. له ماتې سبق واخلئ او د بري په نیت بیا روان شئ.
۲. پر ځان د نقد زړه او وړتیا پیدا کړئ. خپلې نیمګړتیاوې ولټوئ او بیا یې اصلاح کړئ.
۳. بخت مه ملامتوئ. هر خنډ مطالعه کړئ او ستونزې پیدا کړئ. دا مه هېروئ چې د بخت په ملامتولو هېڅ ځای ته نه رسېږئ.
٤. زیار له تجربو سره ګډ کړئ. خپلې موخې ته وفاداره اوسئ، خو ځان مه ملامتوئ، په یوه لاره ځان مه بربادوئ، نوې لارې چارې امتحان کړئ.
٥. دا یاد ساتئ چې هر حالت لکه سکه دوه مخه لري. تاسې یې ښه مخ ولټوئ. مثبت اړخونه ووینئ او نهیلي پرېږدئ.

### دولسم څپرکی
### موخې د ودې لپاره وکاروئ

ټول انساني پرمختګونه لکه (لوی او کوچني اختراعات، طبي اکتشافات، تخنیکي لاس ته راوړنې او سوداګریز پرمختګونه) له عملي کېدو وړاندې ذهني جریانونه وو. دا اوس چې په فضا کې سپوږمکۍ ګرځي دا تصادفي پېښه نه ده، بلکې دا د هغو پوهانو د فکر برکت دی چې موخه یې د فضا فتح کول وو.
موخه هغه ده چې موږ ورته رسېدل غواړو او موږ یې ترلاسه کوو. موخه خوب یا ارمان نه دی، دا هغه ارمان دی چې کار ورته کېږي. موخه یوازې (کاشکې!) نه ده، بلکې موخه روښانه ده چې: موږ ورته کار کوو.)
**دوام لري...**

# عربي متحده امارات

حشمت الله نوري



عربي متحده امارات د منځني ختیځ په هېوادونو کې د عربستان د ټاپووزمې په ختیځه برخه کې د عربي خلیج او د عمان خلیج تر منځ، د شمالي عرض‌البلدونو د ۲۳ او ۲۵ او د ختیځ طول‌البلدونو د ۵۲ او ۵۷ درجو تر منځ موقعیت لري.
د عربي متحده اماراتو شمال ته د فارس خلیج او عمان، شمال ختیځ ته عمان، شمال لوېدیځ ته قطر، جنوب ته سعودي عربستان او عمان، ختیځ ته د عمان خلیج او لوېدیځ ته سعودي عربستان موقعیت لري.
د دغه هېواد اقلیم په عمومي توګه وچ او نیم دښتي دی. د اماراتو هوا په سواحلو کې د اوربښت له کموالي سره سره، د عربو او عمان د خلیجونو د ګاونډیتوب له امله، لنده او د استوا له کرښې سر د نږدېوالي له امله توده ده.
عربي متحده امارات له ابوظبۍ، دوبۍ، راس الخیمه، فجیره، ام لکوین، شارجه او عجمان اماراتونو څخه جوړ شوی هېواد دی، چې د استوا کرښه د دغه هېواد له منځ څخه تېرېږي.
د دغه هېواد پلازمېنه د ابوظبۍ ښار دی او ټولټال یې نفوس څه کم لس میلیونو کسانو ته رسېږي، چې په هر کیلومتر مربع سیمه کې یې ۹۹ کسان ژوند کوي.
د اماراتو ۸۷ سلنه وګړي په ښارونو او ۱۳ سلنه یې بیا په کلیو او بانډو کې ژوند کوي. د دغه هېواد د قانون له مخې هره کورنۍ په ټول عمر کې یوازې د دریو ماشومانو د درلودو حق لري.
ابوظبۍ، فجیره، عمجان، راس الخیمه، دوبۍ، ام الکوین او شارجه د دغه هېواد مهم ښارونه دي. د اماراتو ۹۷ سلنه وګړي د اسلام د دین پیروان او پاتې دری سلنه یې بیا د هندو او نورو مذهبونو پیروان دي.
د اماراتو رسمي ژبې عربي، انګلیسي او هندي دي، خو لیکدود یې بیا عربي او انګلیسي دی.
عربي متحده امارات داسې یو فدراسیون دی، چې ځینې واکونه د یو اې اې فدرالي حکومت ته ورکړل شوي او ځینې نور واکونه د هر امارات لپاره خوندي پاتې شوي دي. د عربي متحده اماراتو د جوړښت د اصولو له مخې، د هر غړي امارات مشر د څه مودې لپاره د فدراسیون د مشر او د همغه امارات مرکز د ټول فدراسیون د پایتخت په توګه ټاکل کېږي.
د عربي متحده اماراتو اوسنی مشر سلطان شیخ خلیفه بن زاید آل نهیان دی.
د یو اې اې د کابینې وزیران د فدراسیون د مشره لخوا ټاکل کېږي. امارات یوه فدراله عالي شورا لري چې د فدراسیون د اوو ګونو اماراتونو له سلاطینو څخه جوړه شوې ده. دغه شورا د فدراسیون د قانون جوړولو او واک تر ټولو لوړ ارګان بلل کېږي. د فدراسیون عالي شورا په کال کې څلور ځلې غونډه کوي.
د عربي متحده اماراتو پارلمان یوه جرګه یا مجلس الاتحاد الوطني لري، چې ۴۰ تنه غړي یې د اوو ګونو اماراتونو د سلاطینو لخوا د دوو کلونو لپاره ټاکل کېږي.
د دغه هېواد د قضایي نظام په سر کې د اتحاد ستره محکمه ځای لري، چې قاضیان یې د اماراتو د سلطان لخوا ټاکل کېږي.
اماراتو د ۱۹۷۱ ز کال د ډسمبر په دویمه له انګلستان څخه خپلواکي واخیسته او اوس هر کال د ډسمبر دویمه په دغه هېواد کې د خپلواکۍ د ورځې په نوم نمانځل کېږي.
له ۱۹۷۳ ز کال څخه راپدېخوا چې یو اې اې په بېلابېلو سیمو کې د تېلو او ګازو سترې زېرمې وموندلې، د دغه هېواد اوو ګونو اماراتونو له وړوکو وړوکو وروسته پاتې او بېوزله اماراتونو څخه د ژوندانه د سویې تر اوسني ډېر جګ ستندرړ حالته پورې ستونزمنه لاره ووهله. یو اې اې اوس ډېر منظم دولتي تشکیلات او خورا پرمختللی اقتصاد لري. په اماراتو کې د قانون حاکمیت، اداري او حقوقي اسانتیاوو د سیمې او نړۍ په زرګونه پانګوال دې ته هڅولي، چې په دوبۍ او د یو اې اې په نورو اماراتو کې کورونه واخلي، فابریکې، هوټلونه، مغازې او دفترونه جوړ او پانګونه وکړي. د یو اې اې په بېلابېلو اماراتونو کې کورني قوانین یو له بله لږ توپیر لري. ابوظبۍ د اماراتو مرکز د تېلو او ګازو سترې زېرمې لري او معمولاً د نورو اماراتونو له دولتي بودجو سره مرسته کوي. دوبۍ د اماراتو دویم ستر امارات او ستر سوداګریز بندر دی او د مېلمنو د هرکلي لپاره څه باندې ۷۰۰ پنځه ستوریز هوټلونه او ډېر تفریحي ځایونه لري. د اماراتو ۸۸ سلنه سیلانیان د هوساینې او تفریح لپاره دوبۍ ته ځي او هلته ډېرې پیسې مصرفوي.
د اماراتو چارواکي پر دې خبره کار کوي چې ورو ورو پر تېلو او ګازو باندې د خپل هېواد اتکا کمه کړي او د پرمختګ نورې لارې چارې ولټوي. د همدې لپاره دوی اوس اوس په دوبۍ او د اماراتو په نورو برخو کې داسې ښارګوټي جوړوي، چې د نړۍ د ټکنالوژۍ او خدماتي بریاوو د بېلګو په توګه په راتلونکي کې ډېر خلک اماراتو ته راوبولي.
د یو اې اې ډېر بندرونه او په تېره بیا د دوبۍ بندر د نړۍ د صادراتو او وارداتو له سترو بندرونو څخه دی، چې د مالونو د ښکته کولو او بارولو پوره اسانتیاوې لري. دوبۍ هر کال په سلګونه زره وارد شوي مالونه بېرته صادروي. د دوبۍ او د اماراتو په ګمرکاتو کې محصول یا نشته او یا دومره لږ دی، چې د جنوبي اسیا، منځنۍ اسیا او افریقا ډېر سوداګر د مالونو د اخیستلو لپاره هلته ورځي. په دوبۍ کې د ګمرکي محصول د نشتوالي کموالي په څنګ کې، قانونیت او دولتي څار هم دومره پیاوړی دی، چې هېڅوک له اصولو څخه سرغړاوی نه شي کولای.
بربېښنا، د تېلو، ګازو ایستل او چاڼ، د ګازو اوبلن کول، پټروشیمي محصولات، کیمیاوي سره، د کبانو پروسس، د المونیم ویلي کول، سیمنټ او نور ساختماني مواد، د بېړیو جوړول او ترمیم، پولاد، خوراکي توکي، لاسي کارونه او نور د دغه هېواد مهم صنعتي فکټورونه دي.
د اماراتو خاوره په عمومي توګه د کرنې وړ نه ده، اټکل کېږي چې په راتلونکي کې به د اماراتو ۱۵ سلنه ځمکه د کرلو وړ وګرځي. د اماراتو چارواکي همدا اوس خپل پانګه وال هڅوي، چې پر ځمکو باندې سابه او واښه وکري، څو خپل چاپېریال ښه وساتي او په هېواد کې یې شنې سیمې خورې شي. د دغه هېواد څلور سلنه ځمکه څړځایونو او نږدې ۹۰ سلنه ځمکه بېدیاوو، ښارونو، بندرونو او د استوګنې سیمو نیولې ده. د دغه هېواد نهه سلنه خلک د کرنې په سکټور کې پر کار بوخت دي او د دغه هېواد پنځه سلنه ناخالص کورني تولیدات هم له همدغه سکټور څخه لاس ته راځي.
خرما، سابه، هندوانې، چرګان، هګۍ، کبان او واښه د دغه هېواد مهم کرنیز محصولات بلل کېږي. د اماراتو لوی تجارتي شریکان هند، چین، امریکا، جرمني او جاپان دي. امارات ۷۰ غټې تجارتي بېړۍ لري، ۵۰ هوایي ډګرونه لري چې ۳۰ یې په پاخه او عصري ډول رغول شوي دي.
د دغه هېواد د ټلیفون کود ۰۰۹۷۱ او د انټرنټ کود یې AE دی، چې ټولټال یې څلور میلیونه کسان لاسرسی ورته لري.
سره له دې چې د نړۍ ډېرې رسنۍ د دوبۍ په میډیا فری زون کې دفترونه لري او یا له همدغه هېواده خپرونې کوي، په یو اې اې کې ډېرې چاپي رسنۍ، راډیوګانې او ټلویزیونونه دولتي دي.
یو اې اې د ناخالص کورني تولید او سړي سرکلني عاید په حساب، د اسیا او نړۍ یو پرمختللی هېواد بلل کېږي. په دغه هېواد کې له ۱۵ کلونو څخه پورته ټول خلک پر لیک او لوست پوهېږي او زده کړه له ٦-۱۴ کلنو ماشومانو او تنکیوځوانانو لپاره وړیا او جبري ده.
د عربي خلیج د جنوبي سواحلو ډېر لرغونی تاریخ روښانه نه دی. له میلاد څخه ۱۳ پېړۍ مخکې عربي کوچیانو د عربستان د ټاپووزمې له منځنیو برخو څخه د عربي خلیج پر څنډو یرغل وکړ او دا سیمې یې ونیوې. له میلاد څخه ۳۲۳ کاله مخکې مقدوني سکندر دا سیمې لاندې کړې. له میلاد څخه ۱۷۴ او ۳٦ کلونو ترمنځ اشکانیانو او وروسته بیا ساسانیانو د اسلام تر راتګه پورې د عربي خلیج پر جنوبي سواحلو واکمني درلوده. د اسلام مبارک دین د حضرت محمد ص په وخت کې د عمرو بن عاص په لاس دغو سیمو ته رسول شوی دی. له ساسانیانو څخه وروسته دغو ساحلي سیمو څو پېړۍ د شیخانو او سیمه ییزو مشرانو په ملوک الطوایفي کې تېرې کړې. په لسمه پېړۍ کې سلجوقیانو او ورپسې اتابکانو پر دغو سواحلو پاچایي کړې ده. له ۱۲مې څخه تر ۱۴مې پېړۍ پورې د بني عبدالقیس د شمالي عربو قبیلې، چې په ۱۲۳۱ ز کال مسلمانه شوې او بحرین ته لېږدېدلې وه، سیمه ییز واکمن مات کړل او د عربي خلیج پر ټولو لوېدیځو ټاپوګانو لاسبرې شوه.
د ۱۹٦۹ ز کال په اکتوبر کې ایران پر بحرین باندې د مالکیت دعوا وکړه، په عربي اماراتو کې د همدغو پولو د نامعلوموالي له امله ډېرې ستونزې موجودې وې او له بلې خوا بحرین او ابوظبۍ دواړو فدراسیونو د غټې اداري ونډې لپاره هڅه کوله. عربي هېوادونو، لکه: مصر، سعودي عربستان او عراق د فدراسیون د کامیابۍ لپاره کارکاوه. ایران په ۱۹۷۱ ز کال کې د بحرین د سرنوشت ټاکل، ملګرو ملتونو ته پرېښودل او د لوی تومب وړوکی تومب او ابو موسی ټاپوګان یې ونیول. بحرین د همدغه کال د اګسټ په ۱۵مه او قطر د سپټمبر په لومړۍ نېټه ځانونه خپلواک وبلل او له عربي متحده فدراسیون څخه ووتل. د همدغه کال د ډسمبر په لومړۍ نېټه، انګلسانو وویل چې له متصالحه اماراتو سره خپل پخواني تړونونه منسوخ ګڼي. یوه ورځ وروسته ابوظبۍ، دوبۍ، شارجه، ام لکوین، عجمان او فجیرې خپله بشپړه خپلواکي او د عربي متحده اماراتو جوړېدل اعلام کړل او له انګلستان سره یې د دوستۍ تړون لاسلیک کړ.
د افغانستان او یو اې اې تر منځ نااستوګنې سیاسي اړیکې په ۱۹۷۳ ز کال کې ټینګې شوې دي. افغانستان په ۱۹۹۳ ز کال کې په ابوظبۍ کې خپل لومړنی سفارت پرانیست. په افغانستان کې د حامد کرزي په مشرۍ د نوې اداري تر جوړېدو وروسته، یو اې اې په کابل کې خپل سفارت پرانیست. اوس افغانستان پر سفارت سربېره، په دوبۍ کې قونسلګري هم لري.
اوس اوس هم په عربي متحده اماراتو کې زرګونه افغان سوداګر او پانګه وال، په دوبۍ کې جایدادونه لري او په زرګونو افغاني کارګران پر بېلابېلو کارونو بوخت دي، چې عواید یې د دوی د کورنیو او د افغانستان د ملي عوایدو په جوړښت کې مناسبه ونډه لري.
له افغانستان څخه تر عربي متحده اماراتو پورې د هوا له لارې فاصله ۱۷۸۴ کیلومترو ته رسېږي او همدا راز د دغه دواړو هېوادونو ترمنځ د وخت توپیر ۳۰ دقیقې دی.

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۹,۷۰ |
| € | ۸۹,٦۰ |
| Rp. | ۵۳۷ |
| ₹ | ۱۱۳۰ |
| ¥ | ۱۱,۳۰ |
| £ | ۱۰۰,۳۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالۍ زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانۍ

# که غواړئ شتمن شئ؛ فرصتونه له لاسه مه ورکوئ!

ژباړه: حمیدالله حمیدي

جېمي مک اینټایر په خپل کتاب (څه مې چې خوښ وو په ښوونځي کې مې زده کول)، کې هغو لارو چارو ته اشاره کړې ده، چې په وسیله یې په اسانۍ سره یو څوک شتمن کېږي. په کتاب کې د پیسو ګټلو ډېرې اسانه لارې ښودل شوې دي، چې ټول څېرکي یې په یوه لیکنه کې ځایول ناممکن دي، خو له ځینو ځانګړو تګلارو څخه یې دلته یادونه کوو.

مک اینټایر د دې تګلارو پر مټ خپل ۱۵۰ زره ډالره پور خلاص کړی، میلیونونه ډالره یې تر لاسه کړي او اوس یې ژوند له خوښۍ سره برابر پر مخ ځي. د دې لیکنې له لوستلو وروسته پوهېږی چې بریالي او ناکام مدیران څوک دي، بریا څه ډول تر لاسه کولی شي او له ماتې خوړلو وروسته څه ډول را پورته کېدای شي. دا به هم زده کړی چې د پیسو ګټلو په لار کې مو کوم خنډونه پراته دي، چې له مخې یې لرې کړی.

مک اینټایر وایي، کارنده مدیران د دې لپاره چې بریا، شتمنۍ او ارامۍ ته ورسېږي، ځینې خاص فعالیتونه کوي. د څېړنو له مخې هغه کسان چې اوس شتمن دي او هغه چې په یوه ګوله ډوډۍ پسې ټوله ورځ سرګردانه وي، د پیسو ګټلو په اړه بېلابېل ذهنیتونه لري. دا چاره موږ ته ځینې رازونه په ګوته کوي. زموږ اقتصادي بریا تر ډېره په هغو باورونو پورې تړلې ده، چې موږ یې د پیسو په اړه لرو. که مو د پیسو په اړه خپل باورونه محدود وساتل، هغه ده چې ټول عمر به مو په دې کې تېر شي، چې د زرو افغانیو ګټل نو ولا لویه خبره ده او که همدغه زر افغانۍ وګټو، بیا د یوې اونۍ لپاره د نورو پیسو د ګټلو هڅه نه کوو. همدا باورونه د دې لامل کېږي چې د مالي ازادۍ لوړې څوکې ته له رسېدو پاتې شو.



هغه کسان چې د لوړ مالي هوښ څښتنان دي، د خپلو مالي برخو لپاره جامع عملیاتي طرحې لري او د عملي کولو لپاره یې ورځني پروګرامونه په پام کې نیولي وي.

لومړنۍ هڅه یې دا وي چې لږ تر لږه خپل لس سلنه عواید سپما کړي. دوی په دې پیسو یا پانګونه کوي او یا یې په مناسب وخت کې پر یو اړین کار لګوي.

هغه کسان چې له لوړ مالي هوښ څخه برخمن دي، پوهېږي چې قرض ډېر درونډ بار دی او په راتلونکي کې یې د پانګې پر کچه بده اغېزه کوي. دوی په دې هڅه کې وي چې خپل پورونه وروستۍ کچې ته را ټیټ کړي. له دې سره سره که قرض کولو ته هم اړ شي، داسې ګام پورته کوي چې په ګټه یې تمام شي او د پور خلاصولو سره سره یې ګټه هم کړې وي، نه داسې چې پور کړې پیسې په خپله خېټه واچوي.

مالي موخې له عملیاتي طرحو سره ښېخې نږدې اړیکې لري. هوښیار خلک خپلې موخې په دوو برخو وېشي: اوږدمهالې موخې او لنډمهالې موخې. دغه څه د دې لامل کېږي چې ټول فکر او تمرکز یې پر هغه څه وي، چې د موخو په کتابچه کې یې لیکلي وي.

هوښیار خلک له هرې افغانۍ سره چې مصرفوي یې په دقت عمل کوي. بریالي مالي مدیران د واړه لګښت له پایلو هم ځان خبروي. دوی پوهېږي چې همدا واړه لګښتونه یې کومې پایلې لري. دوی د راتلونکې په اړه عجیبه وړاندوینه لري. دغه څه له دوی سره مرسته کوي چې د پیسو په مصرفولو یا نه مصرفولو کې سمه پرېکړه وکړي. که پوه شي چې یوه پرېکړه ورته په راتلونکي کې کومه ګټه نه رسوي، بلکې پر زیان یې تمامېږي، هېڅکله یې د عملي کولو اقدام هم نه کوي.

هغه کسان چې له لوړې مالي ځیرکتیا څخه برخمن دي، ځانونه ورته پروفیسران نه ښکاري او هر وخت له هغو کسانو سره چې بریالۍ مالي مخینه لري، سلا او مشورې کوي.

د دې لپاره چې د پیسو په مدیریت کې بریالي شي، د هغو کسانو عادتونه، کړنې او ځانګړنې څېلوي او په اړه یې څېړنه کوي چې له هغه وړاندې یې پر دغه لار قدمونه اېښي دي. همدا لامل دی چې کوچنی مالي مدیران له لویو هغو سره ملګرتیا کوي او غواړي د ځان لپاره یې مخ بېلګه وګرځوي.

بریالي مدیران هېڅکله هم د پیسو تر لاسه کولو د نویو لارو چارو زده کول، د پانګونې په اړه معلومات، د ونډو بیې او نور اړوند خبرونه او معلومات له لاسه نه ورکوي. هڅه یې دا وي چې په دې برخه کې نوي شیان زده کړي او له ټولو نویو اقتصادي خبرونو ځان خبروي. بریالي مدیران د ژوند له هرې ګړۍ څخه د زده کړو لپاره ګټه اخلي. که پام ورته وکړی، په موټر کې د راډیو له لارې اقتصادي خپرونې اوري، د اقتصاد او پیسو لاسته راوړلو په اړه کتابونه لولي، په ورځپاڼو کې یوازې په اقتصادي خبرونو پسې ګرځي او په ټوله کې د پیسو لاسته راوړل او لارې چارې یې ورته په یوه عادت بدل شوي وي. همدا عادتونه دي چې په خپلو چارو کې بریالي هم دي.

ناکام مالي مدیران بیا پورتنۍ ځانګړنې نه لري، بلکې د پورته ذکر شویو مواردو برعکس عمل کوي، چې دلته یې په اړه له بحث کولو ډډه کوو.

# ناټو تر ۲۰۲۴ ز کال پورې له افغان ځواکونو سره هر کال پنځه میلیارده ډالره مرسته کوي

مالیې وزارت ویلي، ناټو تر ۲۰۲۴ ز کال پورې هر کال له افغان ځواکونو سره د پنځو میلیاردو ډالرو مرستې ژمنه کړې ده.

د مالیې وزارت ویاند شمروز خان مسجدي ویلي، ناټو له دې مخکې هم له افغان ځواکونو سره هر کال له ۲.۵ څخه تر پنځو میلیاردو ډالرو پورې مرسته کوله او دا لړۍ به تر راتلونکو نورو پنځو کلونو پورې دوام وکړي.

هغه زیاته کړې: «دا په مختلفو برخو کې لګېږي، یوه برخه یې د امنیتي ځواکونو معاشونو ته ځانګړې شوې ده او بله برخه یې مهمات او تجهیزاتو باندې لګول کېږي».

د مالیې وزارت ویاند دغه راز ویلي، افغان دولت د ناټو له چارواکو سره ژمنه کړې چې د امکان په صورت کې به د افغان ځواکونو د مصارفو کچه راټیټه کړي او د افغانستان حکومت به هم د دغو ځواکونو په تمویلولو کې ونډه واخلي.



ښاغلي مسجدي زیاته کړې: «زموږ دا ونډه باید له یوه کال څخه بل کال ته زیاته شي، تر هغه وخته چې د ناټو ژمنې له موږ سره شته، موږ یو داسې پړاو ته ورسیږو چې خپل ځواکونه پخپله تمویل کړو».

بلخوا ناټو ویلي چې له افغان ځواکونو سره د دغه سازمان مالي مرستې، په افغانستان کې د سولې له ټینګېدو سره مرسته کولی شي.

په ورته وخت کې د مالیې سرپرست وزیر د ناټو له مالي ملاتړه هرکلی کړی او ویلي یې دي چې دا به د افغان ځواکونو روحیه پیاوړې کړي.

د مالیې سرپرست وزیر محمدهمایون قیومي ویلي، په بروکسل کې د ناټو له تازه ژمنې سره هغه اندېښنې لرې شوې، چې ګواکې نړیواله ټولنه به افغانستان یوازې پرېږدي.

قیومي تېره ورځ په کابل کې خبریالانو ته ویلي، د بروکسل په ناسته کې د ناټو غړو هېوادونو بیا ځلې ژمنه وکړه، چې له ۲۰۲۰ ز کال وروسته به هم د افغانستان د امنیتي ځواکونو مالي ملاتړ ته دوام ورکوي.

هغه زیاته کړې: «د بروکسل په ناسته کې چې د ناټو ټولو غړو هېوادونو پکې حضور درلود، پکې یو ځل بیا له افغان امنیتي ځواکونو ملاتړ څرګند شو، دوی په افغانستان کې له شویو پرمختګونو هم خوښي څرګنده کړه او ټینګار یې وکړ چې تر ۲۰۲۴ ز کال او له هغې وروسته به هم خپلو مرستو ته دوام ورکوي».

دغه لګښت هر کال پنځه میلیارده ډالره اټکل کېږي چې زیاته برخه یې د امریکا متحده ایالاتونه او د ناټو نور متحدین ورکوي.

# <u>د غزني د ټاکنو کمېسیون:</u> که اعتراضونه دوام وکړي، ښايي په دغه ولايت کې ټاکنې بيا وځنډېږي

د غزني د ټاکنو خپلواک کمېسیون خبرداری ورکړی، که په دغه ولایت کې د خلکو اعتراضونه همداسې دوام وکړي، کېدای شي چې دلته د ولسي جرګې او ولسمشریزې ټاکنې وځنډېږي.

د غزني د ټاکنو کمېسیون رییس عبدالنصیر مومند په دې تړاو ازادي راډیو ته ویلي، چې د خلکو د اعتراضونو په تړاو یې له محلي او مرکزي ادارو سره خپلې ستونزې شریکې کړې او دغه ستونزه که په وخت حل نه شي، ښايي په دغه ولایت کې ټاکنې پر خپل وخت ترسره نه شي.

هغه ویلي، په دغه ولایت کې اعتراض کوونکو د نوملیکنې او د ټاکنو د لومړۍ پروسې د کار مخنیوی کړی دی.

مومند زیاته کړې: «د شنبې په ورځ زموږ پلان و چې د ولسوالیو مرکزونو ته مواد انتقال کړو، خو د غزني ولسونه د پخوانیو اعتراضاتو او تظاهراتو په ادامه، د انتخاباتو دفتر مخې ته راټول شول او د دغه انتقالاتو مخه یې ونیوله».



بلخوا اعتراض کوونکي ټینګار کوي چې په غزني کې دې د ولسي جرګې او ولسمشرۍ ټاکنې په یو ځای ترسره شي.

د دغه ولایت یو تن اعتراض کوونکی او په غزني کې د علماوو د شورا رییس مولوي محمداسماعیل روحاني ویلي: «موږ دری عمده غوښتنې لرو، یوه دا چې یا دې د غزني ټاکنې مخکې تر ولسمشریزو ټاکنو وشي، یا دې له ولسمشریزو ټاکنو سره په یوه ځای وشي او که شاته کېږي، په دې شرط دې شاته شي چې د غزني پخوانی یوولس تنه وکیلان چې له یوه قوم څخه دي، هغه دې را وایستل شي او د غزني یوولس سره څوکۍ دې خالي پاتې شي».

دا په داسې حال کې ده چې په غزني کې تېر ځل هم د خلکو د اعتراضونو له کبله د ولسي جرګې ټاکنې ځنډېدلې وې.

د یادونې ده چې په غزني کې د مدني ټولنو استازي، قومي مخور، مشران، دیني عالمان، د ولایتي شورا ځینې غړي او ولسي خلک لا هم د ټاکنو کمېسیون مخې ته د اعتراض په توګه ناست دي او غوښتنه لري چې تر څو پورې چې دولت او د ټاکنو کمېسیون د دوی غوښتنې منلې نه وي، تر هغې پورې به د ټاکنو هېڅ پروسې ته هېڅ ډول اجازه ورنه کړي.

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily




المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!
flydubai
TURKISH AIRLINES
Emirates
ARIANA
0786 55 55 91
0786 55 55 92
0786 55 55 93
0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستۍ برخه، خوست ټاور، لومړی پوړ.



دوشنبه د ۱۳۹۸ د غبرګولي ۲۰مه | د ۲۰۱۹ د جون لسمه | درېیم کال | ۳۸٤یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۸ | ۲۹ | ٤٠ | ۳۱ | ٤۱ | ۳٦ |
| ۱۳ | ۱۵ | ۲۱ | ۱۸ | ۲۳ | ۲۱ |

شرعي وختونه: سهار ۰۲:۵٦ | لمر ختل ۰٤:٤۰ | ماسپښین ۱۱:۵۳ | مازیګر ۰۳:٤۰ | ماښام ۰۷:۰٦ | ماخوستن ۰۸:۵۰

## نړۍ




## ولسمشر ټرمپ به د رواني جون میاشتې په وروستیو کې له خپل چینایي سیال سره وګوري



د امریکا د خزانې وزیر سټیون منچین ویلي، د متحده ایالتونو ولسمشر ټرمپ به د رواني جون میاشتې په وروستیو کې د جي-۲۰ هېوادونو په سرمشریزه کې له خپل چینایي سیال شي جېن پېنګ سره وګوري.

هغه زیاته کړې چې دغه لیدنه به د رواني جون میاشتې په ۲۸مه او ۲۹مه په جاپان کې د نړۍ د پیاوړو اقتصادونو یا جي-۲۰ هېوادونو په سرمشریزه کې وشي. که څه هم نوموړي د دغې ناستې په اړه نور جزیات نه دي ورکړي، خو چینایي لوري په دې اړه تر اوسه څه نه دي ویلي.


دا په داسې حال کې ده چې نږدې یوه میاشت وړاندې د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګریزو ستونزو د هوارې پر سر رواني خبرې له ناکامۍ سره مخ شوې او دواړو لورو یو د بل پر سوداګریزو توکو ګمرکي تعرفې لوړې کړې.

دغه څرګندونې داسې مهال دي، چې دواړه لوري هڅه کوي څو راپورته شوې سوداګریزې ستونزې د خبرو له لارې حل کړي.

بلخوا منچین د چین د مرکزي بانک له رییس سره هم د وروستیو سوداګریزو ستونزو او ګمرکي تعرفو د لوړېدو په تړاو خبرې کړې دي.

هغه زیاته کړې: «که چین غواړي چې رواني ستونزې د خبرو پر مېز حل شي، موږ کولای شو چې یوې لوېې تاریخي هوکړې ته ورسېږو».

## امریکا او مکسیکو د ګمرکي مالیاتو او مهاجرت پر سر هوکړې ته رسېدلي دي



د امریکا متحده ایالتونه او مکسیکو د ګمرکي مالیاتو د مخنیوي په موخه، د مهاجرت د موضوع پر سر هوکړې ته رسېدلي دي.

د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ په خپله ټویټرپاڼه لیکلي: «خوښ یم، تاسې ته اطلاع درکوم چې متحده ایالات له مکسیکو سره یوې هوکړې ته ورسېدل».

هغه زیاته کړې: «هغه مالیات چې ټاکل شوې وه د دوشنبې په ورځ(نن) د امریکا له خوا د مکسیکو پر محصولاتو لګېدلي وای، په نامحدود ډول ځنډول شوي دي».

ټرمپ ویلي چې د دغه اقدام په بدل کې مکسیکو هوکړه کړې، چې د مکسیکو له لارې د مهاجرت د له منځه وړلو لپاره به په جنوبي سرحد کې قوي ګامونه پورته کړي.

هغه دغه راز ویلي، مکسیکو منلې چې له مرکزي امریکا څخه به د کډوالو د مخنیوي په موخه، په جنوبي سرحد په ځانګړي ډول له ګواتیمالا سره په پوله کې د ملي ګارد په زرګونه سرتېري ځای پر ځای کوي.

دواړو هېوادونو هوکړه کړې، هغه کډوال چې د امریکا له جنوبي سرحد څخه تېرېږي، بېرته به مکسیکو ته ستانه شي او د پناه اخیستو د اسنادو په اړه به یې د امریکایي چارواکو تر پرېکړې په مکسیکو کې پاتې شي او د مکسیکو دولت به د کار، روغتیایي خدمتونو او سرپناه زمینه ورته برابروي.

د دغې هوکړې له مخې مکسیکو مکلفه ده، چې د قاچاق وړونکو د شبکو او د دوی د مالي سرچینو د وچولو لپاره پرېکنده او لازم اقدام وکړي.

دا په داسې حال کې ده چې ولسمشر ټرمپ له دې وړاندې خبرداری ورکړی و، که مکسیکو امریکا ته د ناقانونه کډوالو په مخنیوي کې جدي ګامونه وانه خلي، واشنګټن به د جون له لسمې نېټې (نن) څخه امریکا ته د هغه هېواد پر وارداتي محصولاتو پنځه سلنه ګمرکي تعرفې وضعه کړي.

## محب: نیروهای امنیتی تا چهار ماه آینده کمر طالبان را خواهند شکست



در اوج جنگ‌ها در کشور و شدت‌گیری حمله‌های طالبان بر بخش‌هایی از کشور، حمدالله محب، مشاور امنیت ملی رئیس‌جمهور هشدار می‌دهد که نیروهای دولتی تا چهار ماه آینده کمر طالبان را در میدان‌های جنگ خواهند شکست.

آقای محب در یک گفت‌وگوی ویژه با طلوع‌نیوز دربارهٔ جنگ و صلح افغانستان، افزوده است که طالبان بی پشتیبانی پاکستان یک روز توان پیش‌برد جنگ را در افغانستان ندارند.

او در این باره بیان داشت: «بن‌بست جنگ شکسته شده‌است، به نظرم اگر ما چهار ماه این وضعیت را دوام داده بتوانیم، بن بست چه که کمر طالبان می‌شکنند!»

محب گفته است که طالبان حتا توان پرداخت پول تکت هوا پیمایی را که برای سفرها در گفت‌وگوهای صلح شرکت می کنند، را نیز ندارند.

مشاور امنیت ملی رئیس جمهور غنی، تأکید کرده که پاکستان پشتیبان طالبان است و تا هنگامی‌که به نگرانی‌های پاکستان پاسخ داده نشود، تأمین صلح در افغانستان غیرممکن است. وی افزوده است: «تا با تمویل کنندهٔ طالب صحبت نکنیم، جنگ در افغانستان خاتمه نمی‌یابد. ما باید بتوانیم همرای پاکستان مستقیم مذاکره کنیم. تا که ما نگرانی‌های پاکستان را مطرح نکنیم و به آن پاسخ ندهیم، هیچ امکان ندارد که این‌جا صلح بیاید».


با این همه، این مقام امنیتی کشور از تغییر مثبت در رفتار پاکستان در برابر افغانستان سخن می‌زند.

آقای محب، در بخش دیگر از سخنانش در این گفت‌وگو، تلاش‌های زلمی خلیل‌زاد، نمایندهٔ ویژهٔ امریکا برای صلح افغانستان را ناکام می‌دانسته است.

او چند ماه پیش نیز همزمان با شدت‌گیری تلاش‌های امریکا برای صلح با طالبان، خلیل‌زاد را متهم کرده بود که در تلاش سهیم شدن در قدرت افغانستان است. مطرح کردن این اتهام، برای مشاور امنیت ملی افغانستان چالش برانگیز شد و ایالات متحده اعلام کرد که رابطه‌اش را با او قطع کرده‌است و نیز نماینده‌گان امریکا در نشست‌هایی که محب در آن حضور داشت، شرکت نمی کردند.

## ژوند

## د لسو ثانیو قانون او د غوسې کنټرول



هېڅوک له غوسې ځان نه شي خلاصولای؛ ځکه تل له داسې پېښو او اشخاصو سره مخ کېږو، چې زموږ د غوسې پارېدو لامل ګرځي. موږ یوازې کولای شو زده کړو چې څه ډول خپله غوسه کنټرول کړو او له خپل ځانه یو سم غبرګون وښیو. ډېر کسان به مو لیدلي وي چې د جلسو پر وخت نه شي کولای خپله غوسه کنټرول کړي؛ ځکه د دوی له نظر سره مخالفت شوی وي او یا یې هم پر ځای بل څوک ګومارل شوي وي.

غوسه څه ډول کنټرول کړو؟


**د لسو ثانیو له قانونه ګټه واخلئ!**

هېڅ عکس العمل مه ښکاره کوئ؛ د یوې کاري جلسې او یا هم په ټلېفون کې د خبرو کولو پر وخت چې کله پوهېږئ غوسه مو نه شی کنټرولولای، تر شونډو لاندې تر لسو پورې حساب وکړئ. په دې ډول کولای شی ځان ته وخت ورکړئ چې غوسه مو ښکته کش کړئ او مخکې له هر عکس العمل څخه پر واقعیت ځان پوه کړئ.

**ملګري مو وپېژنئ!**

وګورئ، ملګري مو څه ډول خوی لري او له تاسو سره څه ډول چلند کوي، کېدای شي د ملګرو ډېري هغه خبرې چې تاسو ته د انتقاد په ډول بریښي، په اصل کې د ټوکې او شوخۍ بڼه ولري. د ملګرو په پېژندلو سره مو کولای شی په اسانۍ سره د هغو له انتقادونو سره جوړ راشئ او خپله غوسه مو کنټرول کړئ.

## دغه مېوه مو ځوان ساتي



ګیلاس چې علمي نوم یې Cerasus avium او په انګلیسي کې ورته Cherry وایي او د Rosaceae په کورنۍ پورې اړه لري؛ تریو ته مایله خوږه، غوښنه مېوه ده.

ګټې یې په لاندې ډول دي:

۱- په ګیلاس کې په پراخه اندازه انتي اکسایدونه شته، چې د انسان د زړښت مخه نیسي .

۲- د زړه د ناروغیو مخنیوی کوي او څوک چې پر دې ناروغۍ اخته وي، په کمولو کې یې ګټور تمامېدای شي. په ګیلاس کې په زیاته پیمانه مګنیزیم او پوتاشیم شته چې د زړه د سلامتۍ او عروق شریه لپاره ډېر ګټور دي .

۳- د بدن د پوست د تورو داغونو او تپونو په کمولو کې ګټور تمامېږي .

۴- په بدن کې د غذایي موادو په سوځولو او د خوراک په هضمولو کې پوره مرسته کوي .

۵- د اعصابو سیستم ته سکون وربښي او یو ډول هورمونونه جوړوي، چې انسان ورسره د خوشالۍ احساس کوي .

٦- د وینې په تصفیه کې مهم رول لوبوي.

۷- د انسان فکري ځواک ته قوت ور بښي .

۸- کوم خلک چې له غوښې ډېره ګټه اخلي، کولای شي له ګیلاس څخه استفاده وکړي، څو یې وینه نرۍ او صافه شي .